مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۱۲/۲۶

د لنډیو پر تېټر باندې د کډوالۍ انځور

۲۱مه برخه

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

۲۴۰مه برخه

اخر به وران اسلام‌اباد شي
د پوډریانو په څېر پرېکړې چې کوینه

د پنجابیانو زور اوبه شه
چې پر افغان باندې کوي رنګ ـ رنګ ظلمونه

ډېر ژر به رنګ شي پاکستانه
تا کې ازار شول بېګناه ډېر عالمونه

له ایران او پاکستان نه د افغان کډوالو د راشړلو په دې اړودوړ کې طالبان باید دا هوښیاري وکړي چې د راستانه شوو هېوادوالو په ډله کې هغه خلک چې له کاري مهارتونو سره راستانه شوي دي، هغو ته په پاملرنې سره، له هغو نه داسې استفاده وکړي چې هغه په کار واچوي او د تولیدي کارونو لهپاره استفاده ځینې وکړي.

له ایران او پاکستان نه د راشړل شوو کډوالو د لاسنوي لهپاره ښايي په میلیاردونو ډالره مرستې ته اړتیا وي، خو تر اوسه چا په ښکاره ډول څه مرسته نه ده کړې، یوازې د اروپاي ټولنې د مرستې غږ جګ شوی دی. د تاند یو رپوټ کې داسې راغلي دي:

«تاند (چارشنبه، د قوس ۱۵ مه) اروپايي ټولنې هېواد ته د تازه ستنیدونکو افغانانو پر ملاتړ ټینګار وکړ.

د افغانستان لپاره د دغې ټولنې د پلاوي شارژدافیره رفایله یودیس چې د یوه پلاوي په مشرۍ تورخم ته تللې او له پاکستانه د شړل شویو افغان کډوالو له کمپ څخه لیدنه کړې، ټینګار کړی چې اروپايي ټولنه د دغو افغان راستنېدونکو د ملاتړ لپاره چمتو ده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغې په دې برخه کې د مشخصو مرستو کومه یادونه نه ده کړې، خو ویلي چې له افغانانو سره د دوی مرستې دوام ولري.

له څه مودې راهیسې پاکستان تر ۴ سوو زرو زیات افغانان له دغه هېواده ووېستل چې په هېواد کې یې د سخت وضعیت خبرونه ورکول کیږي.

افغانستان چې لا له وړاندې بشري او اقتصادي وضعیت یې خراب و او د طالبانو له واک ته رسېدو سره دا وضعیت نور هم پېچلی شوی، د کډوالو په زوره ستنول ورته له دې اړخه د لا زیاتې اندېښنې وړ بلل شوی.

که څه هم یو شمېر هېوادونو له تازه ستنیدونکو افغانانو سره د مرستو اعلان کړی، خو طالب چارواکي او تازه ستانه شوي افغانان دا مرستې اساسي نه بولي او د زیاتیدو غوښتنه یې لري.»

هیله ده چې په دې کړکېچن حالت کې زموږ د راشړل شوو هېوادوالو د لاسنیوي له پاره نور هېوادونه او اړوندې مؤسسې هم د مرستې لاس راوغځوي، څو د یوه نوي بشري ناورین د رامنځته کېدو په مخنیوي کې مرسته وکړي.

په افغانستان کې په کډوالۍ او پر کډوالو باندې د ترسره شوو ظلمونو پورې اړوند څو نوې تخلیق شوې لنډۍ:

خدای مې دې درولي وطنه
دا څه ژوندون دی، په پېغور یې تېرونه

وطن مې هرهورځ یادېږي
بېوطنۍ مې ځب، ځب کړي دي هېونه

خوله مې خندا ته نه جوړېږي
د وطن ویر پر مخ څېپېږي راکوینه

چا کډه بار کړله روان دي
د چا کېږدۍ اوس په تورخم ولاړې دینه

ګډه مې نن سبا بارېږي
سودا یې مه کړه درروان یمه وطنه

اخر به وران اسلامآباد شي
د پوډریانو په څېر پرېکړې چې کوینه

په پردیسۍ کې مې زړه شین و
چې بېرته راغلمه وباسمه شُکرونه

مسافري ده، خواشیني ده
خدایه پرلوړو غرو مې وکړې نصیبونه

مسافرۍ کې خوښي نه شته
نه به دې ځای وي، نه به کار نه اسنادونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د پنجابیانو زور اوبه شه
چې پر افغان باندې کوي رنګ ـ رنګ ظلمونه

ډېر ژر به رنګ شي پاکستانه
تا کې ازار شول بې‌ګناه ډېر عالمونه

کارونه ډېر مې درته وکړل
اوس خو مې پرېږده سبا خپل وطن ته ځمه

د تیټو سترګو ژوند دې ورک شي
وطن ته ځم هرڅه به وي، خپل مې واکونه

دا دی روان یمه وطن ته
که نور څه نه وو، مزدوري خو به کومه

زړګی مې هله په درزا شو
پر خپله خاوره مې چې کېښوول قدمونه

زړګی مې مات وینې ترې څاڅي
ما په پردي وطن لیدلي بدحالونه

چې شپه رالنډه شي، نو ښه شي
چې بل سهار مې خپل وطن ته رسومه

سېرنی‌کال څه ډول کال دی
مهاجر باسي خدای دې پېښ کاندي خیرونه

سېرنی کال مې مخ پرځوړ دی
وطن ته ځمه ګوندې سم شي ټول کارونه

طالع ته نه ګورمه کار کړم
که کار ونه‌کړم بربادۍ پر لوري ځمه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ